# د افغـــــانستان اســــلامي امــــارت

## د ارشـــــاد، حج او اوقـــــافو وزارت

### د مساجدو د ارشاد او انسجام رياست

**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**

**ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو**

**ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.**

---

**۲۰/ جمادی الاولیٰ/۱۴۴۶ هـ، ق موافق د ۲/ قوس/۱۴۰۳هـ، ش**

# د اسلام له نظره د ماشومانو حقوق او پر هغوی شفقت کول

**بسم الله الرحمن الرحيم**

بسم الله الرحمن الرحيم والحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على سيد المرسلين وخاتم النبيين وعلى آله وصحبه ومن اهتدى بهديه واستن بسنته إلى يوم الدين أما بعد،

قال الله سبحانه وتعالى: {يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِن كُنتُمْ فِي رَيْبٍ مِّنَ الْبَعْثِ فَإِنَّا خَلَقْنَاكُم مِّن تُرَابٍ ثُمَّ مِن نُّطْفَةٍ ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ ثُمَّ مِن مُّضْغَةٍ مُّخَلَّقَةٍ وَغَيْرِ مُخَلَّقَةٍ لِّنُبَيِّنَ لَكُمْ وَنُقِرُّ فِي الأَرْحَامِ مَا نَشَاء إِلَى أَجَلٍ مُّسَمًّى ثُمَّ نُخْرِجُكُمْ طِفْلا ثُمَّ لِتَبْلُغُوا أَشُدَّكُمْ وَمِنكُم مَّن يُتَوَفَّى وَمِنكُم مَّن يُرَدُّ إِلَى أَرْذَلِ الْعُمُرِ لِكَيْلا يَعْلَمَ مِن بَعْدِ عِلْمٍ شَيئاً وَتَرَى الأَرْضَ هَامِدَةً فَإِذَا أَنزَلْنَا عَلَيْهَا الْمَاء اهْتَزَّتْ وَرَبَتْ وَأَنبَتَتْ مِن كُلِّ زَوْجٍ بَهِيجٍ} الحج:(۵)

**ډېرو محترمو حاضرينو او درنو اوريدونکو!**

**السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته.**

د اسلام مبارک دين يو جامع او جهان شموله دين دی چې په دې دين کې د هر چا حقوق په نظر کې نيول شوي دي او په ښه شان خوندي شوي دي ، لکه د مور او پلار حقوق، د مشرانو او علماوو حقوق، د ګاونډيانو حقوق آن تر دې پورې چې د څارويو او حيواناتو د حقوق په اړه په کې ځانګړې سپارښتنې موجودې دي ، چې په دې جمله کې داسلام مقدس دين ماشومان لره هم يو لړ حقوق تعيين کړي دي او د مور او پلار او د ماشومانو سرپرستانو څخه يې غوښتي دي چې د ماشومانو د حقوق پابند اوسي.

د نن ورځ ماشومان د صبا ورځې لويان، رهبران، علماء، زاهدان او د ټولنې مهم غړي دي.

ماشومان چې په خپله خپلو ضرورتونو ته لاسرسی نلري او د خپلو اړتياوو د لاسته راړولو او پوره کولو کې لويانو ته محتاج دي ، نو ځکه اسلامي شريعت ددوی د اړتياوو پوره کول ددوی پر مشرانو باندې لازم کړي دي.

ماشومان ډير زيات حقوق لري چې ځينې يې په لاندې ډول دي:

**۱- د ژوند حق:**

لکه د لويانو په شان ماشومان هم د الله تعالی بندګان دي او حق لري چې ژوند وکړي ، خوراک وکړي ، څښاک وکړي او لويان شي.دانسان لپاره تر ټولو اساسي حق د هغه د ژوند حق دی؛ ځکه د ژوند حق د نورو حقوقو لپاره مشروط دی.

ماشوم دوه ډوله ژوند لري ، يو د ولادت څخه مخکې د مور په رَحِم کې ژوند دی او بل د ولادت څخه وروسته ژوند دی، چې د اسلام مقدس دين د ماشوم د دواړو مرحلو ژوند تضمين کړی دی. کله چې ماشوم د مور په خيټه کې وي او روح په کې واچول شي ؛ نو ددغه وخت څخه د ده ژوند مصئونيت پيدا کړ او هيڅوک نشي کولای چې دده پر ژوند تيری وکړي او له

هغه څخه ژوند واخلي او مړ يې کړي ؛ ځکه په دغه مرحله کې د ماشوم وژل ستره ګناه ده او ديت وربانديې لازميږي، برابره خبره ده چې هغه هلک وي او که انجلۍ .
نن صبا په کفري ټولنو کې کله چې ماشوم د مور په خيټه کې وي کوم مصئونيت نلري ځکه په اروپايې ملکونو کې ماشومان د ولادت څخه مخکې ساقطوي او ژوند ور څخه اخلي ؛ خو د اسلام په دين کې دا لويه ګناه ده او لوی جرم دی. په يو حديث شريف کې راځي: « عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَضَى فِي امْرَأَتَيْنِ مِنْ هُذَيْلٍ اقْتَتَلَتَا فَرَمَتْ إِحْدَاهُمَا الْأُخْرَى بِحَجَرٍ فَأَصَابَ بَطْنَهَا وَهِيَ حَامِلٌ فَقَتَلَتْ وَلَدَهَا الَّذِي فِي بَطْنِهَا فَاخْتَصَمُوا إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَضَى أَنَّ دِيَةَ مَا فِي بَطْنِهَا غُرَّةٌ عَبْدٌ أَوْ أَمَةٌ فَقَالَ وَلِيُّ الْمَرْأَةِ الَّتِي غَرِمَتْ كَيْفَ أَغْرَمُ يَا رَسُولَ اللَّهِ مَنْ لَا شَرِبَ وَلَا أَكَلَ وَلَا نَطَقَ وَلَا اسْتَهَلَّ فَمِثْلُ ذَلِكَ يُطَلُّ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّمَا هَذَا مِنْ إِخْوَانِ الْكُهَّانِ» صحيح البخاري ت (١٤/ ٤١٣)
ژباړه:- د ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې بيشکه رسول الله صلی الله عليه وسلم فيصله وکړه په منځ د دوه ښځو کې د هذيل له قبيلې څخه چې دواړو جنګ کړی ؤ ، نو وويشتله يوې ښځې هغه بله ښځه په تيږې سره ؛ نو هغه ښځه په خيټه ولګيده په داسې حال کې چې هغه حامله وه، نو د هغې ښځې بچی يې ووژلو هغه چې د هغه ښځې په خيټه کې ؤ، نو دوی جګړه راوړه نبي عليه السلام ته ( دفيصلې لپاره) ، نو نبي عليه السلام فيصله وکړه چې ديت د هغه ماشوم چې په خيټه ددې ښځې کې ؤ د غوره غلام اويا غوره وينزې قيمت دی ( چې په هغه وخت کې د ښه کره غلام قيمت پنځوس ديناره او يا پنځه سوه درهمه ؤ) ، د هغه ښځې ولي وويل چې ويشتل يې کړي ؤ: زه به څرنګه تاوان ورکړم ای د الله رسوله! د هغه چا چې نه يې څه څښلي او نه يې خوراک کړی او نه يې خبرې کړې دي او نه يې د پيدايش پر وخت اواز کړی دی، دداسې (شخص وينه به هدرولی وشي. نبي عليه السلام ورته وويل: بيشکه دا سړی د کاهنانو له ملګرو څخه دی.يعنې دده دا سجع د کاهنانو د سجعې په شان ده او غواړي چې په خپله سجع سره حق له منځه يوسې.
نو کله چې پر ماشوم د مور په خيټه کې ظلم او تيری وشو او مړ پيدا شو ، په تيری کوونکي باندې ددیت لسمه برخه لازمه ده، چې په يو کال کې به يې ورکوي او که چيرې پيدا شو او بيا وروسته ددغه تيري په وجه مړ شو ؛ نو په تيری کوونکي کامل ديت دی. که چيرې هغه ماشوم نر ؤ ، د قاتل په عاقله باندې د سړي کامل ديت واجب دی او پر قاتل باندې کفاره هم واجب ده او که چيرې ماشوم انجلۍ وه نو د قاتل پر عاقله وو باندې د ښځې کامل ديت واجب دی او پر قاتل باندې کفاره هم واجب ده. فيض الباري على صحيح البخاري (٦/ ٦٤)، الاختيار لتعليل المختار (٥/ ٤٩)
ځينې خلک په ډيرې بې پروايې سره کله چې ماشوم د مور په خيټه کې وي په مختلفو بهانو سره هغه ساقطوې چې په دې کار سره د ماشوم څخه ژوند اخيستل دي . جمهور علماء په دې متفق دي چې کله په ماشوم کې روح واچول شو ، د هغه ساقطول جواز نلري حتی حنفي مجتهدين وايې چې که چيرې ماشوم د مور په خيټه کې ژوندی وي او ددې ويره موجوده وي چې که چيرې ماشوم ټوټې ټوټې نکړو او را بيرون يې نکړو ، د مور ژوند ته خطره ده، نو په دغه حالت کې هم ډاکټران نشي کولای چې ماشوم ووژني د مور د بچ کيدو لپاره ؛ ځکه د ماشوم ژوند يقيني دی او د مور مرګ وهمي دی او په وهمي باندې يقيني مونږ له منځه نشو وړلای.
امام ابن عابدين رحمه الله ليکلي دی:( أي ولو كان حيا لا يجوز تقطيعه، لان موت الام به موهوم، فلا يجوز قتل آدمي حي لامر موهوم). حاشية رد المحتار (٢/ ٢٥٨)
ژباړه:- يعنې که چيرې ماشوم ژوندی و او د مور د مرګ خطره وه ، جائز نه دي د هغه ټو ټه کول ، ځکه د مور مرګ مشکوک دی ، نو پس جائز نه دي وژل د ژوندي انسان د مشکوک کار په وجه.
او که چيرې چا ماشوم په دوهمه مرحله کې ووژلو يعنې پس له ولادت يې څخه ووژلو، نو په شريعت کې به قاتل يا په قصاص کيږي او يا به د ماشوم ورثه وو ته ديت ورکوي. کله چې ماشوم د مور څخه پيدا شي نو دا کامل انسان دی او دده د مصئونيت په اړه الله تعالی فرمايي :

{مِنْ أَجْلِ ذَلِكَ كَتَبْنَا عَلَى بَنِي إِسْرَائِيلَ أَنَّهُ مَنْ قَتَلَ نَفْسًا بِغَيْرِ نَفْسٍ أَوْ فَسَادٍ فِي الْأَرْضِ فَكَأَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيعًا وَمَنْ أَحْيَاهَا فَكَأَنَّمَا أَحْيَا النَّاسَ جَمِيعًا وَلَقَدْ جَاءَتْهُمْ رُسُلُنَا بِالْبَيِّنَاتِ ثُمَّ إِنَّ كَثِيراً مِنْهُمْ بَعْدَ ذَلِكَ فِي الْأَرْضِ لَمُسْرِفُونَ } المائدة:(۳۲)

ترجمه:- په سبب د دې (قتل) ليکلي وو (حکم کړی وو) مونږ پر بني اسرائيلو چې بېشکه شان دا دی: هر څوک چې ووژني يو نفس بې له( عوض بدل د )بل نفس نه ( يا بې) له فساده په ځمکه کې (چې په ملک کې يې فساد کړی وي) نو ګواکې وژلي يې دي خلق ټول، او هر چا چې ژوندی کړو دغه( يو نفس چې سبب شي د ژوندون يې) نو ګواکې ژوندي کړي يې دي خلق ټول او خامخا په تحقيق راغلي وو دوی ته رسولان څمونږ په حکمونو ښکاره، بيا په تحقيق سره ډېر له دوی نه پس له دې (راتلو د رسولانو نه هم )په ځمکه (په ملک )کې خامخا مسرفان (له حده تېريدونکي) دي.

داسلام څخه مخکې به په عربو کې ځينو قبيلو لوږه د فقر له ويرې وژلې او يا به د ننګ او عار له امله او يا دا چې ميراث ورڅخه وانخلي، هغه به يې وژلې ، الله تعالی د هغوی د ا کار وغندلو او وه يې فرمايل:{ وَلَا تَقْتُلُوا أَوْلَادَكُمْ خَشْيَةَ إِمْلَاقٍ نَحْنُ نَرْزُقُهُمْ وَإِيَّاكُمْ إِنَّ قَتْلَهُمْ كَانَ خِطْئًا كَبِيراً }الاسراء:(۳۱)ترجمه: او مه وژنئ تاسې اولاد خپل د وېرې دفقره همدا مونږ روزي ورکوو دوی ته هم او تاسې ته هم بيشکه چې قتل د دوی ده خطا (ګناه) لويه (چې د نسل او د نوعې قطع ده.)

فرعون چې د خدايي دعوه يې کړې وه د هغه لوی ظلم دا ؤ چې هغه به ماشومان وژل. الله تعالی فرمايلي دي:

{يُذَبِّحُونَ أَبْنَاءَكُمْ} البقرة:(۴۹)

په هر عنوان چې ماشوم وژل کيږي او ژوند ور څخه اخيستل کيږي دا لويه او کبيره ګناه ده.

امام سمرقندي رح د (خطأ کبيرا) په معنا کې ليکي:(أي ذنبا عظيما ويقال ظلما عظيما) بحر العلوم (۲/ ۳۱۰)

دا لويه ګناه ده او داسې هم ويل شوي چې دا ډير لوی ظلم دی.

مونږ او تاسو ګورو چې په نړۍ کې د ماشومانو د حفاظت او ژوند لپاره مختلفې بين المللي مؤسسات فعاليت کوي او دماشوم تر عنوان لاندې مختلف نړيوال کنوانسونونه موجود دي او بې شميره قوانين موجود دی چې شعار يې دماشوم د ژوند حفاظت دی؛ خو متأسفانه په اسلامي ملکونو کې په جنګونو کې لکه په فسلطين کې ماشومان قصداً بمباريږي او د استوګنې ځايونه په ښنبه کيږي ، انسان ته شک پيدا شي چې دا د ماشومانو نړيوالو مؤسساتو د شتون فسلفه څه ده او مسئوليت يې څه دی؟

**۲- پر ماشوم باندې د ښايسته او ښکلي نوم ايښودل:**

په اسلام کې ماشوم په خپل مور او پلار باندې ددې حق لري چې پر هغه ښايسته او ښکلی نوم کيږدي؛ ځکه په نيک او ښايسته نوم کې يو ډول نيک فال هم موجود وي. ځينې خلک په خپلو ماشومانو د حيواناتو يا د مرغانو ياد بوټو نومونه ږدي چې دا د ماشوم سره يو ډول جفا ده ؛ ځکه کله چې لوی شي ، که څوک ورڅخه د نوم پوښتنه وکړي نو هغه خپل نوم د شرم له لاسه نشي اخيستلی او دا عار د هغه په غاړه کې تر مرګه پورې پروت وي.

په قرآن کريم کې د نيکو نومونو ايښودلو اصل موجوددی او هغه داچې کله د عمران ښځې داخبره نذر کړه چې هغه ماشوم چې زما په خيټه کې دی هغه ما د بيت المقدس خدمت لپاره نذر کړی دی او کله چې له هغې څخه د هلک پر ځای انجلۍ وزيږيده ، نو هغې ورلره نيک نوم کيښود چې مريم ؤ او د مريم معنا ده( عابده) عبادت کوونکی .

الله تعالی هغه واقعه داسې ذکر کوي: {إِذْ قَالَتِ امْرَأَةُ عِمْرَانَ رَبِّ إِنِّي نَذَرْتُ لَكَ مَا فِي بَطْنِي مُحَرَّرًا فَتَقَبَّلْ مِنِّي إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ * فَلَمَّا وَضَعَتْهَا قَالَتْ رَبِّ إِنِّي وَضَعْتُهَا أُنْثَى وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا وَضَعَتْ وَلَيْسَ الذَّكَرُ كَالْأُنْثَى وَإِنِّي سَمَّيْتُهَا مَرْيَمَ وَإِنِّي أُعِيذُهَا بِكَ وَذُرِّيَّتَهَا مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ}آل عمران: (۳۵-۳۶)

ترجمه:- (ياد کړه ای محمده !) هغه وخت چې وويل ښځې د عمران چې ای ربه زما ! بېشکه ما، نذر کړی مې دی تاته هغه شی چې په ګېډه زما کې دی حال دا چې هغه به آزاد وي (له نورو مشاغلو د بيت المقدس خدمت ته) پس قبول کړه ته ای ربه ! دا نذر له ما نه بېشکه ته چې يې هم دا ته يې ښه اوريدونکی (د ګردو اقوالو) ښه عالم (په ټولو احوالو). پس کله چې

ویې زېراوه هغه (نذر) نو وویل (ښځې دعمران) چې ای ربه زما، بېشکه زه چې یم ومې زېراوه هغه (نذر) حال دا چې ښځه (جینی) ده.
او الله ښه پوه دی په هغه شي چې زېږولی وو دې (د عمران ښځې) او نه دی نارینه (چې هغې غوښتی وو لپاره د خدمت د بیت المقدس) په شان د دې ښځې (جیني). او بېشکه ما نوم کېښود د دې مریمه، او بېشکه زه پناه نیسم دې لپاره تا پورې او اولاد د دې مریمې ته له شیطان مردود (رټلي شوي نه.)
همدا راز کله چې ملائکو زکریا علیه السلام ته د زوی زیری ورکړ، نو مخکې له مخکې یې ورلره نیک نوم هم انتخاب کړ چې هغه یحیی دی او دا هغه نوم دی چې مخکې پر چا نه دی ایښودل شوی. الله تعالی فرمایلي دي: {يَا زَكَرِيَّا إِنَّا نُبَشِّرُكَ بِغُلَامٍ اسْمُهُ يَحْيَى لَمْ نَجْعَلْ لَهُ مِنْ قَبْلُ سَمِيًّا} مریم: (۷)
ترجمه:- ای زکریا ! بېشکه مونږ زېری در کوو تاته په یو داسې هلک چې نوم یې یحیی دی، نه مو دی گرځولی ده ته پخوا له دې نه په دغه نامه (او صفت بل همنامه).
**توضیح:** په پورتني آیتونو کې الله تعالی د حضرت مریم لپاره هم نیک نوم کیښود او الله تعالی د یحیی علیه السلام لپاره د هغه د پیدایش څخه مخکې نوم ورلره غوره کړی ؤ، نو ددې څخه معلومه شوه چې په ماشوم نوم ایښودل او هغه هم نیک نوم ایښودل د ماشوم حق دی او بله داچې په قیامت کې به انسان ته د هغه په نوم سره آواز کیږي ، نو په کارده چې نیک او ښایسته نوم ور باندې کیښودل شي.
په حدیث شریف کې راځي: عَنْ أَبِى الدَّرْدَاءِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « إِنَّكُمْ تُدْعَوْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِأَسْمَائِكُمْ وَأَسْمَاءِ آبَائِكُمْ فَأَحْسِنُوا أَسْمَاءَكُمْ ». سنن أبى داود-ن (٤/ ٤٤٢)
ژباړه:- د ابو درداء رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل: بیشکه تاسو به رابللی شئ د قیامت په ورځ ستاسو په نومونو سره او ستاسو د پلرونو په نومونو سره ، نو غوره کیږدئ خپل نومونه.
نبي علیه السلام به ښکلی نوم خوښولو او بد نوم به یې قبیحه گڼلو او په نیک نوم باندې به یې نیک فالي نیوله . کله چې نبي علیه السلام مدینې منورې ته هجرت وکړ، د هجرت څخه مخکې د مدینې منورې نوم یثرب ؤ چې د توبیخ او ملامتی یا فساد معنا یې درلوده ، نبي علیه السلام د هغې نوم بدل کړ او مدینه منوره ، طیبه او طابه نوم یې ورباندې کیښود.
همدارنگه په حدیث شریف کې راځي: عن ابن عباس قال : «كان رسول الله - صلى الله عليه وسلم - يتفاءل ، ولا يتطير ، كان يحب الاسم الحسن». شرح السنة للبغوي(١٢/ ١٧٥)
ژباړه:- د عبدالله بن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به (نیک) فال نیولو او بدفالي به یې نه کوله او هغه به نیک نوم خوښ گڼل.
همدا راز رسول الله صلی الله علیه وسلم به خلکو ته لارښوونه کوله چې په خپلو بچو باندې ښایسته او نیک نوم کیږي لکه عبدالله او عبدالرحمن . او یا لکه د انبیاوو نومونه په حدیث شریف کې راځي: عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « إِنَّ أَحَبَّ أَسْمَائِكُمْ إِلَى اللَّهِ عَبْدُ اللَّهِ وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ ». صحيح مسلم (٦/ ١٦٩)
ژباړه:- د عبدالله بن عمر رضي الله عنهما څخه روایت دی هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: بیشکه الله تعالی ته ستاسې ډیر خوښ نومونه ، هغه عبدالله او عبدالرحمن دي.
په یو بل حدیث شریف کې راځي: عَنْ أَبِى وَهْبٍ الْجُشَمِىِّ وَكَانَتْ لَهُ صُحْبَةٌ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « تَسَمَّوْا بِأَسْمَاءِ الأَنْبِيَاءِ وَأَحَبُّ الأَسْمَاءِ إِلَى اللَّهِ عَبْدُ اللَّهِ وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ ». سنن أبى داود-ن (٤/ ٤٤٣)
ژباړه:- د ابو وهب جمشي رضي الله عنه څخه روایت دی چې هغه صحابي ؤ، هغه وایې چې نبي علیه السلام وفرمایل: د پیغمبرانو په نومونو سره نومونه کیږدئ(په ماشومانو باندې) او الله تعالی ډیر خوښ نومونه هغه عبدالله او عبدالرحمن دی.

**۳-د ماشوم لپاره عقيقه کول :**

عقيقه هغه حيوان ته ويل کيږي چې د ماشوم څخه د ولادت په اوومه ورځ د شکرانې په توګه ذبح کيږي.

د جمهورو علماوو په نزد د ماشوم څخه عقيقه کول سنت مؤکد دي ؛ د حنفي علماوو په نزد د ماشوم عقيقه يو مستحب عمل دی.

په آحاديثو کې د عقيقې په اړه زيات فضائل بيان شوي دي.

په حديث شريف کې راځي:عن سَلْمَان بْن عَامِرٍ الضَّبِّيُّ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: « مَعَ الْغُلَامِ عَقِيقَةٌ فَأَهْرِيقُوا عَنْهُ دَمًا وَأَمِيطُوا عَنْهُ الْأَذَى» صحيح البخاري

ژباړه:- د سلمان بن عامر ضبی رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايې چې ما درسول الله صلی الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي چې وه يې فرمايل:د ماشوم(د ولادت) سره عقيقه وي،نو تويه کړئ د هغه څخه وينه او لرې کړئ له هغه څخه اذيت رسوونکي شيان.

توضيح: محدثين کرام ددي حديث په شرح کې وايې چې په دې حديث کې امر استحبابي دی او د (الاذی) څخه مراد د سر ويښتان خريل دي او يا ختنه کول دي.

بناءً ځينې خلک په عقيقه کې په ماشوم نوم هم ږدي او سر يې هم خروي او ځينې خلک د ماشوم ختنه هم کوي . ځينې نور بيا يواځې د ماشوم سر ور خروي.

په يو بل حديث شريف کې راځي:عَنْ سَمُرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الغُلَامُ مُرْتَهَنٌ بِعَقِيقَتِهِ يُذْبَحُ عَنْهُ يَوْمَ السَّابِعِ، وَيُسَمَّى، وَيُحْلَقُ رَأْسُهُ» سنن الترمذي (٤/ ١٠١)

ژباړه:- د سمره رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:ماشوم محفوظ دی(له آفاتو څخه)په سبب د هغه دعقيقې چې ذبح کولی به شي له هغه څخه په اوومه ورځ او نوم به ورته ايښودل کيږي او سربه يې خرول کيږي.

امام قدوري په التجريد کې ليکلي دي: (قال أصحابنا: العقيقة مُسْتَحَبَّةٌ وليست بِسُنَّةٍ). التجريد١٢/ ٦٣٥٦، ط. دار السلام

ژباړه:- زمونږ اصحاب وايې چې عقيقه مستحب ده او سنت نه ده.

علامه ابن عابدين رحمه الله هم ليکلي دي: وَقَدْ ذَكَرَ فِي غُرَرِ الْأَفْكَارِ أَنَّ الْعَقِيقَةَ مُبَاحَةٌ عَلَى مَا فِي جَامِعِ الْمَحْبُوبِيِّ أَوْ تَطَوُّعٌ عَلَى مَا فِي شَرْحِ الطَّحَاوِيِّ ا هـ وَمَا مَرَّ يُؤَيِّدُ أَنَّهَا تَطَوُّعٌ .أَقُولُ : وَإِنْ قُلْنَا إنَّهَا مُبَاحَةٌ لَكِنْ بِقَصْدِ الشُّكْرِ تَصِيرُ قُرْبَةً ، فَإِنَّ النِّيَّةَ تُصَيِّرُ الْعَادَاتِ عِبَادَاتٍ وَالْمُبَاحَاتِ طَاعَاتٍ). رد المحتار (٢٦/ ٢٥٨)

ژباړه:- په غرر الافکار کې ذکر کړي دي چې عقيقه مباح ده په هغه اساس چې په جامع المحبوبي کې راغلي دي او يا مستحب ده په هغه اساس چې په شرح الطحاوي کې راغلي دي او هغه څه چې مخکې تير شول دا تائيدوي چې عقيقه مستحب ده. زه وايم چې که چيرې مونږ ووايو چې دا مباح ده ؛ خو په قصد دشکر سره عبادت ګرځي ځکه نيت ګرځوي عاداتو لره عبادات.

همداراز په فتاوی فريديه کې د يو سوال په ځواب کې ليکلي دي: عقيقه سنت ده، نبي کريم صلی الله ددي تشريع کړې ده ، فقهاء کرامو ورباندي تصريح کړې ده فقط ، وهو الموفق. فتاوی فريديه ج٨، ص: ٥٠٩

**۴- ماشوم ته شيدې ورکول:**

د ماشومانو بل حق،ماشومانو ته شيدې ورکول دي. د ماشوم په مور باندي دياتناً واجب دي چې ماشوم ته شيدې ورکړې او پلار د شيدې ورکولو اصلي مسئول دی په دې شرط چې ماشوم مال ونلري.يعنې که چيرې مور د شيدې ورکولو څخه انکار وکړي او يا شيدې ونلري، نو په پلار لازم دي چې دماشوم لپاره شيدې ورکوونکې زنانه پيداکړي؛ترڅو ماشوم ته شيدې ورکړي او د طب له نظره د بازار شيدې هيڅکله د مور د شيدو بديل نشی جوړيدلی ،ځکه هغه ګټې چې دمور په

شیدو کې دي هغه د بازار یا د حیوان په شیدو کې نشته او د ماشوم د وجود اړتیاوې نشي پوره کولای،نو مور ته په کار دي چې خپل ماشوم ته پوره دوه کاله شیدې ورکړي د صاحبَینو په نزد او دامام اعظم رحمه الله په نزد ماشوم ته باید پوره دوه نیم کاله شیدې ورکړي خو فتوا د صاحبَینو په قول ده.

الله تعالی فرمایلي دي: {وَالْوَالِدَاتُ يُرْضِعْنَ أَوْلَادَهُنَّ حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ}البقرة(۲۳۳)

ترجمه:- او میندې مور ګاني) دې شودې (پی) ورکوي اولاد خپل ته دوه کاله پوره

توضیح: په پورتني آیت کې صیغه د خبر ده ؛ خو مراد ور څخه امر دی چې دا د امر ابلغ ترین وجه ده . تبيين الحقائق (۲/ ۱۸۲)

د شیدو حق دومره لازمي او حتمی دی چې که چیرې د ماشوم په مور کې شیدې نه وی او یا د ماشوم مور مطلقه وه او ماشوم ته یې شیدې نه ورکولی،د ماشوم پر پلار او ولي باندې لازم دي چې د هغه لپاره داسې ښځه ولټوي چې ماشوم ته شیدې ورکړي ولو که د پیسو په بدل کې وي.

**۵- ماشوم ته د حلال مال څخه خوراک او پوښاک ورکول:**

کله چې ماشوم د مور په خیټه کې وي د هغه وخت څخه د ماشوم د خوراک موضوع مطرح کیږي . په دې معنا چې باید د ماشوم پلار د ماشوم مور ته لازم اوضروري خوراک ورکړي ترڅو ماشوم کمزوری نشي . بیا چې کله

د طعام د خوړلو شي په پلار لازم دي چې ماشوم ته خوراک ورکړي او څښاک ورکړي . الله جل جلاله فرمایلي دي: {وَإِنْ كُنَّ أُولَاتِ حَمْلٍ فَأَنْفِقُوا عَلَيْهِنَّ حَتَّى يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ} الطلاق: (٦)

ترجمه:- او که چېرته وي دغه (ښځې) خاونداني د بار ګېډې (حاملاني بلاربې) نو نفقه کوئ تاسې پر دوی باندې تر هغه پورې چې وزېږوي دوی بار (حمل د ګېډو) خپلو (په څېګېدلو سره).

بهترینه صدقه هغه ده چې په اولاد او عیال باندې مصرف شي.په حدیث شریف کې راځي : عن أَبِى هُرَيْرَةَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِىِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:« خَيْرُ الصَّدَقَةِ مَا كَانَ عَنْ ظَهْرِ غِنًى وَابْدَأْ بِمَنْ تَعُولُ». صحيح البخاري ت (۳/ ٤٤٦)

ژباړه:-د ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه له رسول اکرم صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي چې نبي علیه السلام وفرمایل: بهتره صدقه هغه ده چې د غنا په حالت کې وي او شروع وکړه په هغه چا باندې چې ستا په عیال کې دي.

په پلار باندې واجب دي چې ماشوم ته خوراک او څښاک ورکړي . که چیرې پلار موجود وي او مال ولري او یا مال ونلري خوپه کسب کولو قادروي په پلار واجب دي چې د ماشومانو لپاره نفقه تیاره کړي ، خو که چیرې د ماشوم پلار نه وي او یا موجود وي خو دکار او کسب کولو څخه عاجز وي او د پلار له خوا نیکه یې مال ولري، بیا د پلار له خوا په نیکه باندې د ماشوم نفقه واجب ده. که چیرې نیکه یې مال نلرلو او له کار او کسب څخه عاجزؤ ، نو بیا په هغه مور باندې د ماشوم نفقه، خوراک ،څښاک او جامې لازم دي چې هغه مور مال ولري. الفقه الإسلامي وأدلته (۱۰/ ۱٤۱)

فقهای کرام وایې چې که چیرې ماشوم مال ونلري او پلار مال ونلري خو په کسب قادر وي ، پلار به د ماشوم د نفقې لپاره کسب او کار کوي او د انکار په صورت کې قاضي کولای شي چې د نفقې د نه ورکولو له بابته یې بندي کړي ترڅو کار کولو ته اړ شي. الفقه الإسلامي وأدلته (۱۰/ ۱۳۷)

له ماشومانو خوراک او څښاک بندول ګناه ده. نبي علیه السلام فرمایلي دي: عن عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما قال : قال صلى الله عليه وسلم : « كَفَي بِالمَرءِ إثماً أن يحبِسَ عَمَّن يملِكُ قُوتَهُ ». صحيح مسلم (۳/ ۷۸) وفي لفظ أبي داود« كَفَي بِالمَرءِ إثماً أن يضَيعَ مَن يقُوتُ » سنن أبى داود-ن (۲/ ٥٩)

ژباړه:- د عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روایت دی هغه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: کافي دی سړي لره دا ګناه چې بند کړي له هغه چانه چې دده په واک کې دي د هغوی روزي. او دابوداود په بل لفظ کې راځي: کافي ده سړي لره دومره ګناه چې ضائع کړي هغه څوک چې رزق یې دده په لاس کې دی.

**٦-د ماشومانو سره نيکي کول او پر هغوی شفقت او ترحُم کول:**

ماشومان د لويانو نيکۍ او شفقت ته محتاج دي ، مشرانو او لويانوته په کار دي چې د ماشومانو سره نيکي وکړي او پر هغوی شفقت او ترحم وکړي او پر ماشومانو باندې د سختۍ راوستلو څخه ډډه وکړي، ځکه چې پر ماشومانو باندې سختي راوستل منفي اثرات لري او د ماشومانو سره سختي کول هغوی ته نفسياتي مرضونه ور اړوي او همدارنګه ماشومان د نقص او ضعف احساس کوي پر ماشومانو باندې شفقت نکول او ورسره سختي کول د ماشومانو زړونه له لويانو توريږي او په زړونو کې يې کرکه او نفرت ځای نيسي او کله چې لوی شي ، نو په زړونو کې يې د انتقام احساس ژوندی وي او له ټولنې او لويانو څخه بيا د انتقام اخيستلو په فکر کې وي . نبي عليه السلام فرمايلي دي: عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ :«لَيْسَ مِنَّا مَنْ لَمْ يَرْحَمْ صَغِيرَنَا وَيُوَقِّرْ كَبِيرَنَا».سنن الترمذي (٤/ ٣٢٢)

ژباړه:- د عبدالله بن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: نه دی زمونږ څخه هغه څوک چې رحم ونکړي زمونږ په کشرانو باندې او (ونه کړی) عزت د لويانو زمونږ.

امام ابن خلدون رح وايي: څوک چې په سختۍ او قهر سره لوی شوی وي ، دا کار يي درواغو او خباثت ته اړباسي چې هغه د مافي الضمير مخالف شيانو اظهارول دي ترڅو په دې لاره له ځان څخه د قهر لاسونه لنډ کړي او په قسوت او سختۍ سره لويول ورته مکر او دوکه او فريب وربښی او دا بيا دده عادت ګرځي او دانسانيت ټولې معناګانې په کې مړی کيږي... نو معلم او پلار ته په کار دي چې پر ماشومانو ظلم ونکړي او له استبداد څخه کار وانخلي. مقدمة ابن خلدون ، ص: ٥٤٠

امام غزالي رح ليکلي دي:ماشوم ته زيات او هر وخت غوسه او ملامتول مه متوجه کوه ، ځکه چې داکار ماشوم ته دملامتولو اوريدل بې ارزښته کوي او په قبائحو اخته کيږي او د هغه د زړه څخه د خبرو ارزښت لری کيږي،بلکې پلار بايد دماشوم سره د خبرو هيبت وساتي،نو نه دې رټي مګر کله کله او مور دې ويروي په ادب سره او له قبايحو څخه دې ورته په قهر شي ورکوي.إحياء علوم الدين: ٣/٧٠

په يو بل ځای کې ليکي: کله چې د ماشوم څخه ښه اخلاق او ښه اعمال صادر ښکاره شي ، په کار ده چې په دې کار سره يي عزت وشي او داسې عوض ورکړل شي چې په څه خوشحاليږي او د خلکو په منځ يې بايد صفت وشي ، که چيرې ځينې وخت ور څخه ناکاره خوی او کړنې صادرې شي ، بايد په هغې سترګې پټې شي او که دا کار يې تکرار کړ بايد پټ ملامته کړل شي او د خلکو ته په رسوا کولو وويرول شي . إحياء علوم الدين: ٩٥/٣

رسول الله صلی الله عليه وسلم مونږ ته د مهربانۍ او شفقت او نرمۍ هدايت کړی دی او فرمايلي يې دي: عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ « يَا عَائِشَةُ إِنَّ اللَّهَ رَفِيقٌ يُحِبُّ الرِّفْقَ وَيُعْطِى عَلَى الرِّفْقِ مَا لاَ يُعْطِى عَلَى الْعُنْفِ ». صحيح مسلم (٨/ ٢٢)

ژباړه:- د عائشې رضي الله عنها د نبي عليه السلام کور ودانې څخه روايت دی چې بيشکه نبي عليه السلام داسې وفرمايل: ای عائشې! بيشکه الله نرم (صفت لري) او نرمي خوښه ګڼي او په نرمۍ سره ورکوي (دومره اجر) چې په سختۍ سره يې نه ورکوي.

**٧- د ماشومانو ترمنځ د مساوات رامنځ ته کول.**

الله تعالی مونږ ته امر کړی دی چې په هر حالت کې عدالت رعايت کړو؛ آن تر دې چې د خپلو ماشومانو ترمنځ هم عدالت رعايت کړو او زمونږ ماشومان تر نورو ټولو د عدالت زيات مستحق دي.نبي عليه السلام د ماشومانو ترمنځ د بې عدالتۍ څخه منع کړی ده. په حديث شريف کې راځي: وعن النعمان بن بشير رضي الله عنه قال : أعطَانِي أبِي عَطِيةً، فَقَالَت عُمرَةَ بِنتُ رَوَاحَةَ : لاَ أرضَي حتى تُشهِدَ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم فَأتَيَ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم فَقَالَ : إنيِّ أعطَيتُ

ابنِي مِن عَمرَةِ بِنتِ رَوَاحَةَ عَطِيةً، فَأمَرَتنِي أن أُشهِدَکَ یا رَسُولَ اللهِ ! قَالَ : أعطَیتَ سَائِرَ وَلَدِکَ مِثلَ هَذَا ؟ قَالَ : لا، قَالَ : فَاتَّقُوا اللهَ، وَاعدِلُوا بَینَ أولاَدِکُم » قَالَ : فَرَجَعَ فَرَدَّ عَطِیتَهُ . « رواه البخاري »

ژباړه:- له نعمان بن بشير رضي الله عنه څخه روايت دی وايي: پلار مې څه ډالۍ راکړه، د رواحه لور عمره ( چې د ده مور ده ) وويل زه د تا په دې ډالۍ خوشاله نه يو، ترڅو چې رسول الله صلى الله عليه وسلم په هغو شاهد جوړ نکړې . هماغه وه چې بشير د نبي کريم صلى الله عليه وسلم په خدمت کې حاضر شو ويې ويل ما خپل زوی ته چې د عمره بن رواحه له طرفه دی، څه بخشش ( ډالۍ ) ورکړ او عمرې ما ته امر وکړ چې تا په دې کار شاهد وګرځوي ای د الله رسوله ! رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : آيا نورو خپلو زامنوته دې د دې په شان ډالۍ ورکړې ده ؟ ويې ويل نه، ويې فرمايل : د الله نه ووېرېږه او د اولاد ترمنځ عدالت وکړه ـ راوي وايي: دی بيرته راستون شو او خپله ډالۍ يې واپس کړه .

او په بل لفظ کې راغلي : ای بشيره ! آيا له دې پرته بل زوی هم لرې ؟ ويې ويل: هو ! نو نبي کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل: آيا ټولوته دې داسې ډالۍ ورکړې دي ؟ ويې ويل نه، ويې فرمايل، نو ما په دې مه شاهد کوه، ځکه زه د ظلم په کار شاهدي نه ورکوم او په بل لفظ کې راغلي ـ په دې کار زما نه پرته بل څوک شاهد و ګرځوه او بيا يې وويل آيا دا خوښوې چې په نيکۍ رسولو کې تا ته ټول برابر وي ؟ويې ويل :هو . رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : نو اوس داسې نه کوم او په بل لفظ کې راغلي : د خپل اولاد ترمنځ په ډالۍ ورکولو کې عدالت کوئ لکه چې تاسو خوښوئ چې په نيکۍ رسولو او مهربانۍ کې ستاسو ترمنځ عدالت وکړي

لنډه دا چې د عدالت مراعاتول د ماشومانو ترمنځ په بخشش او ډالۍ ورکولو پورې منحصره نه ده؛ بلکې عدالت په روزنه او زده کړه کې هم بايد په نظر کې ونيول شي، نوله دې امله بايد په مينه او محبت ور کولو کې هم له عدالت څخه کار واخيستل شي .

**والسلام عليکم ورحمة الله وبرکاته.**

**وفقکم الله لما يحبه ويرضاه**